د افغانستان اسلامی جمهوریت

د عالی روغتیا وزارت

# د روغتیا د تمویل تګلاره

## 2019 - 2023 (۱۳۹۸ - ۱۴۰۲)



آگست ۲۰۱۹

**مخینه**

په تیره یوه لسیزه کې افغانستان خپلو هیوادوالو ته د روغتیایي خدماتو په وړاندې کولو کې یو ښه پرمختګ درلود. د روغتیایي خدماتو دپوښښ دکچې د لوړوالي په څنګ کې، په مالي برخه کې د پرمختګ کچه ورو اوبطي وه. افغانستان دنړیوالي تولنې اواز ته ترڅود روغتیایي پوښښ کچه تر ټولو ورسیږي د یوه اوچت ولی با ارزښته هدف په توګه ښه راغلاست وایه. ټولیزو روغیتایي خدماتو ته لاسرسي، باید ټولې میندې روغتیایي خدماتو ته لاسرسي ولري، ټول ماشومان باید اړینو وقایوي روغتیایي خدماتو ته لاسرسي ولري، اوټولې کورنې باید پرته لدې چې له فقر او تنګدستي ویره ولري روغتیایي خدماتو ته لاسرسي ولري. ټولیزو روغتیایي خدماتو ته لاسرسي یو ستراتیژیک او دوام دار روغنیز پرمختګ ته اړتیا لري ترڅو روغتیایي لاسته راوړنې په ښه شکل سره وساتو.

نړیوالي موندنې ښیي چې دټولیزو روغتیایي خدماتو په وړاندې کولو کې نیمګړتیاوې او په دوامداره ډول دروغتیا په سکتور کې له خپل جیب نه خرڅول دوه عمده موانع د ټولیزو روغتیایي خدماتو په وړاندې دي. په بعضي هیوادونو کې یې دمخکې ورکړې مالي وجوهاتو دمیکانیزم په رامنځته کولو سره مالي خطرات کم کړي، کارونه یې ښه کړي او عدالت یې د روغتیایي خدماتو په وړاندې کولو کې را منځ ته کړی. مالي ثروت د یوه هیواد دټولیز روغتیایي پوښښ دپرمختګ په لور یو تعین کونکی عامل ندی، سیاسي تعهد اومناسبي پالیسي ګاني کولای شي مالي خلا ډکه او دوګړو روغتیا اوسلامتیا ته په لوی ارزښت قایل شي.

دافغانستان امنیت اوس د لیږد په حالت کې دی او هیواد دسرچینو له ګواښ سره مخ دی. دعامې روغتیا وزارت اوس په داسې خای کې دی چې د ورو امکاناتوڅخه دلویو تاثیراتو لپاره په ښه شکل اقتصادي اوموثره کارونه ترسره کړي لري. دروغتیا دتمویل د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ ستراتیژي پرمختګ دعامې روغتیا د وزارت لپاره یو لوی پرمختګ دی. دا ستراتیژي دعامې روغتیا د وزارت لپاره ستراتیژیکې موخې ترسیموي چې کورنې او بهرنې سرچینې سره همغږې کړي، په روغتیایي ملا ماتونکو مصارفو باندې ولګه او مالي منابع خوندي او له خپل جیب نه د مالي سرچینو په ورکړې کې کمښت راولي، دپیرلو میکانیزم ته وده ورکړي، کارونې او په لګښتونوکې عدالت ته ښه والی ورکړي، دسرچینو پیداکولو ته وده ورکړي او دروغتیا دتمویل مدیریت ته ټینګښت او ښه والی ورکړي.

دعامې روغتیا وزارت خوښ دی او د دې لپاره پوره تیاری لري ترڅو دغه ستراتیژي په عمل کې پلې کړي ترڅو دټولو لپاره د ټولیزو روغتیایي خدماتو په وړاندې کولو کې چټکې اوښه والی را منځ ته شي.

زه په ډیرې مینې سره دروغتیا دتمویل دګروپ له ټولوکارکونکو څخه مننه کوم چې دی ستراتیژي ته یې پرمختګ ورکړ او په ځانګړې توګه له فرهاد فریور د اقتصاد دتمویل له سر پرست ریس نه مننه کوم چې د دې ستراتیژي دپرمختګ د چارو مشري یې کوله.

په درنښت

ډاکټر فیروزالدین فیروز

دعامې روغتیا وزیر

**مننه**

دافغانستان د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ دروغتیا تمویل ستراتیژی ته وده ورکول د ډیرو اشخاصو اوبنسټونو دهڅو پایله ده. مونږ دزړه له کومی دهغوی څخه مننه کوو کومو چی ددی مهمی ستراتیژی په بشپړیدو کی مهمی مرستی کړی دی.

په خاصه توګه مونږ دروغتیا دتمویل له کاری ګروپ څخه چی څو میاشتنی یی کار اوزحمت ایستلی مننه کوو چی د عامی روغتیا ستراتیژیکی موخی یی دروغتیا د تمویل په ستراتیژی کی په ګوته کړی دی. په ګده سره کارکول اوډ دوستانو ګډ کار مونږته دا اجازه راکړه چی د خپل هیواد د غښتلیا او مالکیت لپاره کار وکړو. ددی کاری ټیم غړی ډاکتر ابو اسماعیل فوشنجی، ډاکتر اجمل بهزاد، ډاکتر فرهاد فریور، ډاکتر خواجه میراحمد سعید، محمد یونس زاولی، ډاکتر نجم الدین هاشمی، ډاکتر عمرزمان سعیدی، او ډاکتر محمد کریم علوی دی.

دیادونی وړ یی بولم چی له ښاغلی ډاکتر اوزینګ څخه چی د امریکا دنړیوالی پراختیایی اداری د روغتیا دسکتور د پرمختګ دپروژی له اړخه یی ددی ستراتیژی په جوړولو او ددی ستراتیژی په نهایی کولو کی مرسته کړی دزړه له کومی مننه وکړم.

په پای کی ویاړم چی دروغتیا دسکتور دټولو مرستندویانو او تخنیکی ملګرونه چی دروغتیا تمویل د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ ستراتیژی په پراختیا کی یی ونډه واخیسته اود ستراتیژی د پلی کولو لپاره ددوی ژمنی له ځانه سره لرو مننه وکړم چی پدی کی ځینی لکه نړیوال بانک، دامریکا دمتحده ایالاتو نړیواله پراختیایی اداره، داروپا اتحادیه، دکاناډا سفارت، د روغتیا نړیوال سازمان، دملګروملتونو پرمختیایی برنامه، اودماشومانو لپاره دملګروملتونو صندوق شامل دی اوالبته پدی باندی محدود ندی.

په درنښت

ډیوه صمد

دپالیسی او پلان معینه

دعامی روغتیا وزارت



# فهرست

**پيژندنه** ........................................................ 1

د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ کال د روغتيا د تمويل ستراتيژی د پراختيا پروسه ........................ 2

د وضعيت شننه او ترلاسه شوي تجربي ........................ 2

**د ملي کچې اهداف** ........................ 4

**ليدلوری** ........................ 4

**ماموريت** ........................ 4

**هدف** ........................ 5

**اساسي ارزښتونه او اصول** ........................ 5

**ستراتيژيک لوري** ........................ 5

**لومړی ستراتيژيک لوری: د روغتيا سکتور لپاره د کورني او بهرني تمويل انسجام** ........................ 5

۱.۱ ستراتيژيک هدف: د روغتيا سکتور لپاره د کورني تمويل لوړول ........................ 6

۱.۲ ستراتيژيک هدف: د روغتيا سکتور کي د ملي لومړيتوبونو په برخه کي د تمويلوونکو د همغږی پياوړي ډول ترڅو د تمويل ډيرو غوښتنو لپاره د تمويل او ملاتړ ورانديونه لوړه شي ........................ 6

۱.۳ ستراتيژيک هدف: د خصوصي سکتور سرچينو څخه نهايي ګټه اخيستل او په روغتيا کي د پانګوني زياتول ........................ 7

**دوهم ستراتيژيک لوری: د ناورينه له ډک روغتيايي لګښت څخه د مالي ژغورني چمتو کول او له جيب څخه د کورنيو شخصي لګښت (OOP) له آمله د پيښيريدونکي بي وزلی مخنيوی کول** ........................ 8

۲.۱ ستراتيژيک هدف: د مخکي ورکړې ميکانيزمونو معرفي کول چي له جيب څخه د کورنی شخصي لګښت (OOP) راکم کړي ........................ 8

۲.۲ ستراتيژيک هدف: له ناورينه ډک روغتيايي لګښت څخه د بي وزلو ژغورل ........................ 8

**دريم ستراتيژيک لوری: تدارکاتي ميکانيزمونو ته وده ورکول** ........................ 9

۳.۱ ستراتيژيک هدف: ستراتيژيکو تدارکاتو ته وده ورکول ........................ 9

**څلورم ستراتيژيک لوری: د عامه لګښتونو اغيزمنتوب او عدالت (برابری) ته وده ورکول** ........................ 10

۴.۱ ستراتيژيک هدف: په روغتيايي سکتور کي مؤثريت ته وده ورکول ........................ 10

۴.۲ ستراتيژيک هدف: په روغتيايي لګښتونو کي عدالت (برابری) ته وده ورکول ........................ 10

پنځم ستراتيژيک لوری: د سرچينو څار ميکانيزمونو ته وده ورکول ........................ 11

۵.۱ سراتيژيک هدف: په اداراتو کي د روغتيا ملي حسابونو ځای پرځای کول ........................ 11

۵.۲ ستراتيژيک هدف: په اداراتو کي د لګښتونو د مديريت معلوماتي سيستم ځای پرځای کول (**EMIS**) ........................ 11

۵.۳ ستراتيژيک هدف: د عامه لګښت بررسي (**PER**) او د عامه لګښت د تعقيب سروی (**PETS**) پلي کول ........................ 12

**شپږم ستراتيژيک لوری: د روغتيا د تمويل لپاره د حکومتوالی پياوړي کول** ........................ 12

**۶.۱ ستراتيژيک هدف: په روغتيا د تمويل کي حکومتوالی ته وده ورکول** ........................ 12

**۶.۲ ستراتيژيک هدف: په روغتيا د تمويل کي د څيرني فرهنګ ته وده ورکول** ........................ 13

**۶.۳ ستراتيژيک هدف: په روغتيايي اقتصاد او تمويل کي د سيمه ايزو کارکوونکو ظرفيت ته وده ورکول** ........................ 13

**د ۲۰۲۳ ميلادي کال لپاره متوقع پايلي او لاسته راوړني** ........................ 14

لومړی پړاو (له ۲۰۱۹ ميلادي کال څخه تر ۲۰۲۰ پوری) ........................ 14

**دوهم پړاو (له ۲۰۲۱ ميلادي کال څخه تر ۲۰۲۲ پوری)** ........................ 14

**دريم پړاو (۲۰۲۳ ميلادي کال)** ........................ 14

**د اجرأتو اندازه کول: له ۲۰۱۹ تر ۲۰۲۳ ميلادي کال پوری د روغتيا د تمويل ستراتيژی له پلي کولو څخه نظارت کول** ........................ 15

## پيژندنه

افغانستان چې یو تيټ عاید لرونکی هیواد دی، د افغانستان د ملي احصایي او معلوماتو اداري (NSIA) د وروستیو اټکلونو پر بنسټ یې په ۲۰۱۷ کي ټولټال ۲۹.۷ میلیونه نفوس درلود[1]. په تیره لسیزه کي، د افغانستان اقتصاد بې ثباته خو چټک پرمختګ کړی دی چې پدې برخه کي ساختماني او کرهنيز سکتور د هیواد په پرمختګ کي رغنده رول درلود. په تیره لسیزه کي د کورنیو ناخالصو تولیداتو (GDP) منځنی کچه ۴.۷ ٪ [2] وه. په وروستیو کلونو کي دغه اقتصادي وده په ۲۰۱۷ کال کي ۲.۷٪ ته راښکته شوه چې په ۲۰۱۸ کال کي له هغې څخه هم یوه اندازه یعني ۲.۴٪ ته راښکته شوه[3]. په ۲۰۱۸ کال کي د افغانستان کورني ناخالص تولیدات ۱۹.۹ میلیارده ډالره وه چې د سړي په سر کورني ناخالص تولیدات ۵۴۸ ډالرو ته رسیدل[4]. په تیره یوه نیمه لسیزه کي، د افغان دولت لخوا روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی په اساسي ډول پراخ شوی دی او د خلکو تر منځ د روغتیا پايلي ښې شوي دي. د روغتیایي خدمتونو اساسي روغتیا د تمویل (BPHS) او د روغتون د خدمتونو اړیني روغتیا د تمویل (EPHS) لومړنیو او ثانوي روغتیایي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی پراخ کړی او د عمومي روغتیایي پوښښ کچې وده موندلي ده[5]. په ۲۰۱۸ کال کي د افغانستان روغتیا سروی (AHS) ترسره شوه چې پکې ۵۷٪ ځواب ویونکو ویل چې دوی کولای شي په ۳۰ دقیقو کي روغتیایي مرکز ته لاسرسی ومومي او په مجموعي توګه ۹۰٪ ځواب ویونکو ویل چې دوی په دوو ساعتونو کي روغتیایي مرکز ته لاسرسی موندلی شي. په پایله کي، په تیرو پنځلس کلونو کي د افغانستان د روغتیا پايلو د پام وړ پرمختګ کړی دی. د میندو د مړیني تناسب چې په ۲۰۰۲ کال کي د ۱۰۰،۰۰۰ ژوندیو زیږونونو تر منځ ۱۶۰۰ تنه وو، په ۲۰۱۰ کال کي ۳۲۷ ته راټيټ شو، او تر پنځو کلونو کم عمره مړیني چې په ۲۰۰۶ کال کي په ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونونو کي ۱۹۱ تنه وو، په ۲۰۱۸ کال کي ۵۰ تنو ته راټيټي شوي[6].

ددغو لاسته راوړنو سربیره، افغانستان اوس هم له جدي روغتیایي ننګونو سره مخ دی. په ۱۰۰،۰۰۰ ژوندیو زیږونونو کي ۳۲۷ مړیني[7]، د منطقي په کچه د میندو د مړیني د تناسب تر ټولو لوړه کچه تشکیلوي. ددي سربیره، افغانستان د درې ډوله وژونکو ناروغیو له بار سره مخ دی: پداسي حال کي چې غیر ساري ناروغی (NCDs) او ټپیان په چټکتیا سره مخ په زیاتیدو دي، ساري ناروغی تراوسه پورې د ناروغیو د ټول بار تر ټولو ستر تناسب تشکیلوي. په چټکی سره مخ پر ودې نفوس سره، دغه ناروغی د روغتیایی خدمتونو تمویل او چمتو کولو باندې د پام وړ فشارونه راوړي دي.

د خلکو تر منځ زیاتیدونکو روغتیایي اړتیاوو ته په کتو سره، د روغتیا د تمویل اوسني ترتیبات به ونشي کولای چې په دوامداره توګه د روغتیا خدمات وړاندې او د سیستم پراختیا تمویل کړي، او تر څنګ به یې د عمومي روغتیایي پوښښ (UHC) موخو ته د رسیدو په پرمختګ کي خنډ رامنځته شي. د روغتیا ملي حسابونو (NHA) په ۲۰۱۷ کال کي راپور ورکړ چې په ۲۰۱۷ کال کي د روغتیا مجموعي لګښت د سړي په سر ۸۷ امریکایي ډالر وو. په روغتیا باندې د کورنیو لخوا د جیب څخه مستقیم لګښت په مجموعي ډول ۷۵٪ وه – چې د ۲۰۱۴ کال د ۷۲٪ لګښت په پرتله درې سلنه زیات شوی وو، په داسي حال کي چې په ۲۰۱۷ کال کي ۲۰٪ مرسته د تمویلوونکو لخوا او ۵٪[8] مرسته د حکومت لخوا ترسره شوي وه. د دولت کمو مرستو او د تمویلوونکو په مالي ملاتړ کي د متوقعه کموالي ته په کتو سره، اړینه ده چې افغانستان خپل روغتیا مالي سیستم اصلاح کړي تر څو د روغتیا لپاره نوري سرچینې په حرکت راولي او د موجوده سرچینو څخه ډیره ګټه ترلاسه کړي.

دغه سند د روغتیا دتمویل د تیرو ستراتیژیو(تګلارو) له مخي جوړ شوی چې له ۲۰۱۹ څخه تر ۲۰۲۳ کال پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي. د افغانستان د ۲۰۱۲-۲۰۲۰ کلونو د روغتیا د تمویل پالیسی سره سم، دغه پنځه کلنه ستراتیژي د روغتیا د تمویل تیرو لاسته راوړنو پر بنسټ جوړه شوې چې د روغتیا د تمویل سیستم د پیاوړتیا لپاره د لارښود په توګه کارول کیږي او په افغانستان کي د عمومي روغتیایي پوښښ (UHC) او د پراختیا دوامدارو موخو (SDGs) ترلاسه کولو لپاره طرح شوې ده.

---

1 د افغانستان اسلامي جمهوری دولت، ۲۰۱۷-۲۰۱۸، د افغانستان د احصائیي کلنی کتاب، کابل

2 https://data.worldbank.org/country/afghanistan

3 https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview

4 نړیوال بانک، آګست ۲۰۱۸، د افغانستان د پراختیا په اړه تازه معلومات

5 د عامي روغتیا وزارت، ۲۰۱۷، په افغانستان کي د عمومي روغتیایي پوښښ د ترلاسه کولو ماموریت، کابل

6 د عامي روغتیا وزارت، آګست ۲۰۰۸ او ۲۰۱۹، د افغانستان د روغتیا شاخصونو فکټ شیټ، کابل؛ ۲۰۰۲، RAMOS؛ د عامي روغتیا وزارت، ۲۰۰۶، AHS، کابل؛ د عامي روغتیا وزارت، ۲۰۱۸، AHS، کابل

7 د عامي روغتیا وزارت، ۲۰۱۰، د افغانستان د مرګ او میر سروی، کابل

8 د عامي روغتیا وزارت، ۲۰۱۷، د افغانستان ملي روغتیایي حسابونه، کابل

## د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ کال د روغتیا د تمویل ستراتیژۍ د پراختیا پروسه

د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ کال د روغتیا د تمویل ستراتیژي د عامي روغتیا وزارت دننه او بهر د بیلابیلو ښکیلو اړخونو په ګډون جوړه شوې ده. ددغه کار د ترسره کولو لپاره د دندو د څرګندو لایحو د جوړولو په شمول د رهبرۍ یوه کمیټه او یو تخنیکي کاري ټیم تشکیل شول. د ستراتیژۍ د پراختیا پروسې په لړ کې، کاري ګروپ د تطبیق د مهال ویش په اړه د بحثونو د ترسره کولو لپاره په منظمه توګه ناستې درلودې. د بیاکتنې پروسې د یوې برخې په توګه، تخنیکي ټیم د افغانستان د روغتیا د تمویل چټکه ارزونه ترسره کړه، او د ستراتیژیکو لاربښوونو، موخو او مداخلو په څیر د نوې ستراتیژۍ په اجزاوو باندې یې موافقه وکړه. تخنیکي ټیم د تصویب په موخه خپلې موندنې او کړنلاره د روغتیا د تمویل رهبرۍ کمیټې (HFSC) ته وړاندې کړل. د ټولو ښکیلو اړخونو لخوا د ملاتړ او همکارۍ زیاتولو لپاره، په چټکې ارزونې سره د روغتیا د تمویل د اوسنې وضعیت د موندنو او همدارنګه د لاسته راوړنو او ننګونو په اړه راپور ورکړل شو. د نړیوال بانک لخوا د روغتیا د تمویل په اړه یو تخنیکي ورکشاپ په جمتو شو چې د ورکشاپ پایلې او په ځانګړې توګه تخنیکي لاسته راوړنې د امکان تر حده پورې د روغتیا سکتور د تمویل په ستراتیژۍ کې ځای پر ځای شوې. تخنیکي کاري ګروپ په یوه مشورتي ورکشاپ کې د ښکیلو اړخونو یو لوی ګروپ ته د روغتیا تمویل ستراتیژۍ لومړنۍ مسوده وړاندې کړه. پدې سند کې وړاندې شوی ستراتیژیک کاري چوکاټ د هغو کسانو نظرونه چې په مشورتي ورکشاپ کې یې برخه اخیستې وه هم بیانوي.

## د وضعیت شننه او ترلاسه شوې تجربې

په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو د مالي تمویل اوسنی حالت څرګندوي چې دغه هیواد اوس مهال د عمومي روغتیایي پوښښ پر لور موخې ته د رسیدو په درشل کې په لومړنیو پړاونو کې دی. همدا راز، د کورنیو لخوا له خپل جیب څخه لوړ شخصي لګښت او د تمویلوونکو په مرستو اتکاء او روغتیایي خدمتونو لپاره د وړاندې ورکړې د محدودو میکانیزمونو شتون هم د پورته یادې شوې پایلې ښکارندویي کوي. د روغتیا لپاره کورنی سرچینې، لکه د دولت بودیجه (د بیلګې په توګه، عمومي مالیه) د روغتیا د ټولټال لګښت لپاره ډیره کمه ده او یوازې ۲٪ ده خو د روغتیا سکتور لپاره د دولت بودیجې عمومي سهم (عادي او پراختیایي دواړه) د روغتیا د ټولټال لګښت یوازې ۵٪ تشکیلوي[9].

په افغانستان د عوایدو راټولول د دولت لخوا د تنظیم شوي مرکزي سیستم له لارې ترسره کیږي چې دغه عواید ډیری له ملي مالیاتو او د ګمرکاتو د تعرفې د راغونډولو څخه لاس ته راځي. د دولت ټول عواید په یوه واحد دولتي حساب کې راټولیږي او سره یو ځای کیږي چې د مالیې وزارت لخوا اداره کیږي[10]. اوس مهال، د تمویلوونکو په مالي مرسته د روغتیا سکتور لپاره د عوایدو د راټولولو یو میکانیزم جوړ شوی دی. د روغتیا سکتور کلیدي تمویلوونکي، لکه، د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، نړیوال بانک او اروپایي اتحادیه اوس مهال د یو واحد وجهي صندوق له لارې خپلې مرسته ورکوي، چې هغه مالي مرستې بیا د دولت لخوا له ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۱ ولایتونو کې له غیردولتي موسسو څخه د روغتیایي خدمتونو اساسي ټولګې (BPHS)او د روغتیایي خدمتونو اړینې ټولګې (EPHS) خدمتونو د پیرودنې لپاره کارول کیږي. د پاتې دریو ولایتونو روغتیایي خدمتونو د عامې روغتیا وزارت د پیاوړتیا میکانیزم (MoPH-SM) د یوې برخې په توګه د دولت لخوا تنظیم او اداره کیږي. د روغتیایي خدمتونو د پراختیا امکان لا هم شته، ځکه چې اوس هم ګڼ شمیر مرستندویه سازمانونه په ځینو ولایتونو کې د عامې روغتیا وزارت تر نظارت لاندې له هغو یو شمیر غیردولتي موسسو سره مالي مرستې کوي چې د روغتیایي خدمتونو اساسي ټولګه (BPHS) او د روغتیایي خدمتونو اړینه ټولګه (EPHS) تطبیقوي چې عموماً دغه مرستې د دولت له بودیجې څخه بهر مرسته بلل کیږي، خو دغه کار د حساب ورکوونې سیستمونه کمزوري کړي او په احتمالي توګه د روغتیایي خدمتونو په تمویل کې د دوه چند کوونې له امله د مرستو موثریت اغیزمنوي.

د روغتیا د تمویل سرچینو تفکیک لپاره، د عامې روغتیا وزارت د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ (RGSF) جوړ کړی او په منظم ډول پکې اصلاحات راوړل کیږي. د ۲۰۱۸ کال اصلاح شوې نسخې د روغتیا د تمویل ځینې احتمالي سرچینې مشخصې کړي، لکه د تنباکو تولیداتو، د موټرو جواز بیا نوي کولو، د سونګ موادو، او خواږو او انرژي لرونکو مشروباتو باندې د مالیاتو زیاتول. د وړاندې ورکړې میکانیزمونو رامنځته کول لکه د ټولو خلکو لپاره د روغتیایي بیمې پروګرامونه او په هغو روغتونو کې د خدمت په بدل کې د فیس تطبیق چې ثانوي او ثالثي خدمتونه وړاندې کوي د روغتیا د تمویل حالت د ښه کولو لپاره نور احتمالي انتخابونو کیدلی شي. د ۲۰۱۸ کال د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ

---

[9] د عامې روغتیا وزارت، د افغانستان د روغتیا ملي حسابونه، کابل

[10] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د مالیې وزارت، ۲۰۰۷، د افغانستان د عامه مالي او لګښت مدیریت قانون، کابل

پر بنسټ اټکل شوې، که چيرې په کاري چوکاټ کې وړانديز شوې لارې چارې په بشپړ ډول عملي شي، ۱۹۵،۵۳۰،۰۹۰ امريکايي ډالره عوايد به ترلاسه شي[11].

په تيرو پنځو کلونو کې د روغتيا په سکتور کې د پام وړ يوه لاسته راوړنه د روغتيا قانون تعديل دی چې له هغو کسانو څخه د ثانوی او ثالثی روغتيايي خدمتونو په بدل کې د فيس اخيستو اجازه ورکوي چې د پيسو ورکولو توان ولري. دا د عامې روغتيا په تاريخ کې يو قاطع بدلون ګڼل کيږي ځکه چې پخوا به لومړني، ثانوي او ثالثي روغتيايي خدمتونه په وړيا توګه وړاندې کيدل. په واقعيت کې، لکه څنګه چې له جيب څخه د کورنی په شخصي لګښتونو کې وښودل شوه، افغاني کورنی لاتراوسه په روغتيايی خدمتونو باندې له جيب څخه د کورنی شخصي لګښت په توګه خورا ډيرې زياتې پيسې لګوي. که څه هم لومړني روغتيايي خدمتونه په وړيا توګه بيا هم د ټولو اتباعو حق دی، خو په روغتونونو کې له هغو اتباعو څخه چې د پيسو د ورکړې توان لري د ثانوي او ثالثي روغتيايي خدمتونو په بدل کې د خدمت د ترلاسه کولو فيس اخيستل به له يوې خوا له روغتيايي خدمتونو څخه ناوړه ګټه اخيستنه راکمه کړي او له بل پلوه به د هغو خدمتونو کيفيت لوړ شي چې بې وزلو وګړو ته په وړيا توګه وړاندې کيږي. ددې کار په پايله کې به خلکو ته د روغتيا بيمې د معرفي کولو ترڅنګ د عامې روغتيا په تمويل کې ځيني اصلاحات هم رامنځته شي چې د ډيرو خلکو مرستې ته اړتيا لري چې د روغتيا په تمويل کې برخه واخلي (البته، هغه خلک چې دا توان لري).

پدې وروستيو کې، د عامې روغتيا وزارت لخوا د روغتيايي خدمتونو اساسي ټولګي (BPHS) او د روغتيايي خدمتونو اړيني ټولګي (EPHS) لپاره د پيرودني بيلابيل ستراتيژيک ميکانيزمونه رامنځته شول تر څو په روغتيايي لګښت، کې موثريت لوړ شي او د روغتيايي سکتور د پايلو ښه کولو لپاره له شته سرچينو څخه ګټه واخيستل شي. په ستراتيژيکه پيرودنه کې د فعاليت پر بنسټ د قرارداد کولو کړنلاره شامله ده. پداسې حال کې چې له غيردولتي موسسو سره د (SEHAT) او صحتمندی په نوم د پروژو تړونونه لاسليک شوي، خو د پيسو ورکړه يې د مور او ماشوم د روغتيا لومړيتوب ځانګړو شاخصونو ترلاسه کولو پورې تړلې ده. د روغتيايي خدمتونو اساسي ټولګي (BPHS) او د روغتيايي خدمتونو اړيني ټولګي (EPHS) غيردولتي قراردادي موسسو ته د مرحله يي ورکړې سربيره چې خپل اساسي لګښتونه پوره کړي، د توافق شوو موخو ترلاسه کولو وروسته به د خدمت په مقابل کې د فيس ورکړې هم ترلاسه کوي. د لګښتونو د کمولو لپاره به يو ډول محدوديت رامنځته شي خو بيا هم د يادوني وړ ده چې په ملي روغتونونو کې د د ثالثی روغتيايي خدمتونو پيرودل د دولت عملياتي بوديجې په کارولو سره د خدمت د نوعيت په بدل کې د ورکړې ميتود له مخې ترسره کيږي.

د روغتيا په تمويل کې د عامې روغتيا وزارت يو مسئوليت د روغتيا د تمويل د اصلاحاتو په برخه کې د شواهدو رامنځته کول دي او د روغتيا سکتور د عوايدو لوړولو او د موجوده سرچينو د اغيزمن استعمال يقيني کولو په شمول له مثبتو بدلونونو څخه ملاتړ دی. له همدې کبله، د عامې روغتيا وزارت د روغتيا اقتصاد او تمويل رياست (HEFD) رول د اغيزمنو پريکړو نيولو او ملاتړ لپاره د اقتصادي شواهدو په برابرولو کې ګټور دی. په افغانستان کې د روغتيا د تمويل په برخه کې د روغتيا اقتصاد يو شمير څيړني لکه د اغيزمنتوب او عدالت څيړنه، د روغتيايي بيمې د امکان مطالعه، او د روغتيا ملي حسابونو او دولتي لګښتونو د تعقيب سروی ګاني (PETS) خورا مهمې دي.

د روغتيا د تمويل د تيرو ستراتيژيو له تطبيق څخه يوه کليدي ترلاسه شوې تجربه دا ده چې د روغتيا د تمويل د ستراتيژۍ اغيزمن تطبيق د دولت په مالي اصلاحاتو کې د مرکزي وزارت په توګه د ماليې وزارت بشپړ ملاتړ ته اړتيا لري.په بهرنيو مرستو باندې د روغتيا سکتور تکيې ته په کتو سره د روغتيا د تمويل کليدي موخو او ستراتيژيو اړوند هم د روغتيا سکتور له تمويلوونکو سره همغږې اړينه ده. د عامې روغتيا وزارت دا مني چې د روغتيا د تمويل د اصلاحاتو د موخو او پايلو په برخه کې د اړوندو وزارتونو او تمويلوونکو په فکر کې بدلون ته اړتيا ليدل کيږي. که څه هم په تيرو پنځو کلونو کې د عوايدو زياتولو لپاره د ملاتړ ډيرې هڅې شوې دي، خو تر څنګ يې د بوديجې د تطبيق او د شته سرچينو د لګولو د لا زيات موثريت لپاره د پام وړ امکانات هم موجود دي. خو پدې وروستيو کې پدې برخه کې د پام وړ ښه والی رامنځته شوی دی – د بيلګې په توګه، په ۲۰۱۵ کال کې د روغتيايي بوديجې تطبيق ۷۰٪ وو چې په پرتله يې په ۲۰۱۸ کال کې تطبيق له ۹۳٪ څخه پورته شوی دی[12].

له بل پلوه، د روغتيا خصوصي سکتور اوس مهال په هيواد کې د روغتيايي خدمتونو په ترسره کولو کې اساسي رول لوبوي. د هيواد له۵۰٪ څخه زيات نفوس د روغتيايي خدمتونو ترلاسه کولو لپاره د روغتيا انتفاعي خصوصي سکتور (شخصي ډاکترانو، خصوصي کلينيکونو او روغتونونو) ته مراجعه کوي. درمل او تشخيص د کورنی د جيب څخه د شخصي لګښت

---

[11] د عامې روغتيا وزارت، ۲۰۱۸، د روغتيايي سکتور لپاره د عايد جوړوني ستراتيژيک کاري چوکاټ، کابل
[12] د عامې روغتيا وزارت، ۲۰۱۸، د بوديجې د تطبيق راپور، کابل

عمده عوامل ګڼل کیږي چې په ترتیب سره ۴۸٪ او ۳۵٪ تشکیلوي[13]. په خصوصي سکتور باندي د دولت لخوا د نظارتي سیستم نه شتون د سرچینو د ضایع کیدو او د موثریت د کمیدو لامل کیږي. په ټولنه کې د روغتیا خصوصي انتفاعي سکتور حاکمیت او له جیب څخه د کورنیو شخصي لګښت زیاتیدل هم د خلکو لخوا له خدمتونو څخه د ناعادلانه ګټې اخیستنې احتمال لوړوي، چې پدې سره بیوزله خلک له اړینو روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې کیږي.

په هغو روغتونونو کې چې ثالثي خدمتونه وړاندي کوي او د عامې روغتیا وزارت لخوا اداره کیږي، د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کوونکې او پیرودونکې تر منځ توپیر نه لیدل کیږي. اوس مهال د عامې روغتیا وزارت، د ثالثي خدمتونو د وړاندې کوونکي او پیرودونکي په توګه دواړو رولونه لوبوي.

## د ملي کچې اهداف

د روغتیا د تمویل ستراتیژي ۲۰۱۹-۲۰۲۳ د افغانستان د روغتیا سکتور مالي تشو ته د رسیدو په ستراتیژیکه لار کې د لاربنود په توګه ترتیب شوې ده ترڅو نوموړی سکتور وکولی شي د خلکو اړتیاوو ته په ښه توګه ځواب ووایي. ددغې ستراتیژۍ ځانګړي موخې په لاندې ډول دي:

- د روغتیا سکتور لخوا د روغتیایي خدمتونو د پراختیا لپاره د شته عوایدو لوړول؛
- د روغتیا د تمویل په شاخص کې د عدالت، اغیزې، او پایښت ښه کول؛
- د کورنیو لخوا د جیب څخه شخصي لګښت راکمول او په پایله کې د فقر خواته د کورنیو د تلو مخنیوی کول؛
- د روغتیا د تمویل سرچینو مؤثریت لوړولو لپاره د عادلانه او اغیزمنو سرچینو تخصیص او د باکیفیته روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو اسانتیاوو لپاره د پیرودنې ستراتیژیکو میکانیزمونو پیاوړي کول؛
- د روغتیا د تمویل سرچینو موثریت ته وده ورکول او د پیرودنې ستراتیژیکو میکانیزمونه تقویه کول ترڅو په عادلانه او مؤثره توګه د مالي سرچینو تخصیص ته لاره هواره شي او باکیفیته روغتیایي خدمتونه وړاندې شي.
- د پالیسۍ او پریکړې نیولو لاربښوونې په موخه د روغتیا اقتصاد، تمویل او لګښت پر وخت مالوماتو ورکولو لپاره د سیمه ییزې ورتیا پیاوړي کول.

## لیدلوری

ټول هیوادوال د ښې روغتیا او هوساینې څخه برخمن شي او د هغو خدماتو له کیفیت څخه خوښ واوسي چې حکومت یې چمتو کوي. او په پایله کې، هیواد د ښې فزیکي او رواني روغتیا له امله د زیاتیدونکې موثریت او ودې څخه ګټه واخلي او د ژوند اټکل لوړ شي او د مړینې او ناروغتیا کچه راټیټه شي.

## ماموریت

د عامې روغتیا وزارت د روغتیا سیستم لپاره په ټولو موجوده مالي سرچینو کې د زیاتوالي رامنځته کولو په موخه په ښه بیلو ستراتیژیکو لاربښوونو او د روغتیا د مالي تدابیرو په تطبیق کار کوي، او تر څنګ یې لا زیاتو سرچینو ته وده ورکول، د بودیجې د لګښتونو اصلاح، د غوره هدفونو او ستراتیژیکو پیرودنو له لارې د اوسنیو سرچینو په لګښت کې د مؤثریت زیاتول او د روغتیا د تمویل لپاره د اړینو شواهدو چمتو کول هغه مهمې لارې چارې دي چې باید ترسره یې کړي.

---

[13] د عامې روغتیا وزارت، ۲۰۱۷، د افغانستان د روغتیا ملي حسابونه، کابل

## هدف

د کافي اندازې بودیجې رامینځته کولو او د تمویل اغېزې او عدالت رامنځته کولو له لارې د عمومي روغتیایي پوښښ پر لور چټک حرکت.

## اساسي ارزښتونه او اصول

د روغتیا د تمویل په دغه ستراتیژۍ کې د وړاندیز شوو اصلاحاتو پراختیا او تطبیق په لاندې ارزښتونو باندې ولاړ دی:

- پیوستون، چې بې وزلو او زیان منونکو ته په ځانګړې پاملرنې سره د ټولو روغتیا په پام کې نیسي.
- د روغتیا په سکتور کې د ضایعاتو د مخنیوي لپاره د سرچینې په انسجام، تخصیص او کارولو کې موثریت.
- د روغتیا سکتور سرچینو په مدیریت کې شفافیت او حساب ورکونه.
- د کورنیو سرچینو زیات انسجام له لارې پایښت.
- د شواهدو پر بنسټ پریکړې نیول.
- روغتیایي خدمتونو ته د اړمنو خلکو لاسرسی ډاډمنول.
- د روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه کول.
- د روغتیا سکتور د خدمتونو او تمویل څخه په ګټه اخیستنه کې د عدالت تامینول.

## ستراتیژیک لوری

هر ستراتیژیک لوری او هدف د معیارونو پر بنسټ ټاکل شوی ترڅو د عامې روغتیا وزارت د پالیسیو اهدافو او لومړیتوبونو سره د هغوی سمون یقیني شي. د ستراتیژیک لوري او اهدافو د ټاکلو لپاره وړاندیز شوي معیارونه په لاندې ډول دي:

- د افغانستان روغتیایي سیستم پورې تړاو ولري
- د ۲۰۱۵-۲۰۲۰ کلونو د روغتیا ملي پالیسی او د ۲۰۱۶-۲۰۲۰ د روغتیا ملي ستراتیژۍ سره سمون ولري
- د لومړیتوب ملي پروګرامونو (NPP) سره سمون ولري
- د ۲۰۱۲-۲۰۲۰ کلونو د روغتیا د تمویل پالیسی سره سمون ولري
- د ۲۰۱۴-۲۰۱۸ د روغتیا د تمویل ستراتیژۍ پر بنسټ جوړ شوی وي
- د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ (ANPDF) سره همغږې ولري
- د ارزونې وړ وي – د مشخص، د سنجش وړ، د لاسرسي وړ، حقیقي، وخت پورې محدود (SMART) شاخصونو سره د سنجش وړ وي
- د تمویل میکانیزمونو له مخې د پایښت وړ وي
- د پوهیدو وړ - د شمولیت هدف یې په آسانۍ د پوهیدو وړ وي
- د افغانستان شرایطو سره برابر وي
- د موثریت، عدالت، اغیزمنتیا، لاس رسي، رونتیا، حساب ورکونې او د سیستم پراختیا لپاره اغیزمن وي

## لومړی ستراتیژیک لوری:

### د روغتیا سکتور لپاره د کورني او بهرني تمویل انسجام

له تاریخي پلوه، افغانستان له ملي بودیجې څخه د روغتیا سکتور لپاره له اړتیا څخه کمه بودیجه تخصیص کړې ده. د بېلګې په توګه، دولت په ۲۰۱۹ کال کې له خپلې ټولټال دولتي بودیجې[14] څخه شاوخوا ۴.۲٪ بودیجه د عامې روغتیا وزارت ته ځانګړې کړې ده. عمومي روغتیایي پوښښ ته د رسیدو لپاره، د روغتیا نړیوال سازمان سپارښتنه کوي چې په اوسط ډول

---

[14] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د عامې روغتیا وزارت، ۲۰۱۹، د ملي بودیجې اسناد، کابل

باید د یوه هیواد ۵٪ ناخالص کورني تولیدات عامې روغتیا ته تخصیص شي[15]. د روغتیا سکتور لپاره د مالي تمویل د پایښت یقیني کولو لپاره باید د افغانستان دولت له دغو سپارښتنو څخه په ګټې اخیستنې له خپلو کورنیو سرچینو څخه د روغتیا په سکتور کې د لګښتونو سهم په تدریجي ډول زیات کړي. ډیره اړینه ده چې په بهرني تمویل کې د احتمالي کموالي له لارې روغتیایي سیستم ته د هر ډول د زیان رسیدو مخه ونیول شي. ددې سربیره چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) لپاره امنیت تر ټولو ستر لومړیتوب دی، خو دا هم اړینه ده چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اقتصاد او امنیت په پایښت کې د روغتیا پانګونې ته په اهمیت ورکولو سره د روغتیا سکتور لپاره د ملي بودیجې تخصیص لوړ کړي. ددې سربیره، نړیوالو تجربو ښودلې چې د دولتي تمویل لوړول د کورنیو لخوا له جیب څخه لوړ شخصي لګښت په راکمولو کې تر ټولو اغیزمنه لار ده. د مالي فضا د ښه کولو لپاره بیلابیل مالي میکانیزمونو کارول کیدلی شي، لکه، د روغتیا لپاره پر مضرو توکو د مالیې پیژندنه او زیاتول (د بیلګې په ډول، د تنباکو مالیه، د خواړو محصولاتو مالیه، همداسې نور)، د اضافي ارزښت مالیه (VAT)، او د وړاندې ورکړې میکانیزمونو رامنځته کول. په همدې توګه، د عامې روغتیا وزارت د ۲۰۱۸ کال د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ (RGSF) پلې کول د روغتیا سکتور لپاره د موجوده سرچینو د ښه کولو په موخه اړین دي. که څه هم د روغتیا سکتور په تمویل باندې د مثبتو اغیزو درلودلو په موخه د مالي فضا د پراختیا لپاره ربښتینې ځواک شتون لري، خو د کورنیو عوایدو لوړولو او د روغتیا سکتور ته د لومړیتوب ورکولو په برخه کې د افغانستان وړتیا تل لنډ مهالو او منځمهالو مودو پورې محدوده پاتې شوې ده. د دغو ملاحظاتو په پایله کې، د بهرنی بودیجې د اوسنی کچې ساتل خورا مهم دي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې افغانستان د دې وړتیا لري چې د روغتیا د تمویل هغه سیستم بنسټیز کړي چې موخو ته د رسیدو په لور د روغتیایي سیستم ملاتړ کوي.

## ۱.۱ ستراتیژیک هدف: د روغتیا سکتور لپاره د کورني تمویل لوړول

لارې چارې:

- د روغتیا سکتور لپاره د دولت د تمویل زیاتولو ملاتړ (په ملي بودیجه کې د روغتیا لومړیتوب)؛
- د روغتیا سکتور لپاره د مختص شوو بودیجو ملاتړ (د بیلګې په توګه: د تمباکو مالیه)؛
- له کلیدي همکارانو سره د سرچینې منسجم کولو لپاره د همکاریو پیاوړتیا: لکه د مالیې وزارت، د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، پارلمان، او د عدلیې وزارت؛
- د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ (RGSF) کې د شاملو وړاندیز شویو لارو چارو لپاره د پالیسۍ لنډیز جوړول؛
- د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ (RGSF) تطبیق؛
- د روغتیا لپاره د کورنیو سرچینو په توګه د ذکات او تکافل څیړل؛
- د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ (RGSF)، ذکات او تکافل سربیره، د روغتیا لپاره د کورنیو سرچینو زیاتولو په موخه د خیرښیګنې د نورو انتخابونو څیړل، په ځانګړې توګه د مرکزونو په کچه؛
- د ثانوي او ثالثي روغتیایي خدمتونو لپاره د خدمت ترلاسه کولو فیس سیستم بیاکتنه او تنظیمول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې بې وزله خلک له روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې نه دي

متوقع پایله:

د روغتیا سکتور لپاره د دولت کورنی بودیجې زیاتول.

## ۱.۲ ستراتیژیک هدف: د روغتیا سکتور کې د ملي لومړیتوبونو په برخه کې د تمویلوونکو د همغږۍ پیاوړې کول ترڅو د تمویل ډیرو غوښتنو لپاره د تمویل او ملاتړ وړاندوینه لوړه شي

لارې چارې:

- د روغتیا سکتور د اوسنیو او بهرنیو اټکل شوو سرچینو د منظمې ارزونې لپاره د هراړخیزې وسیلې جوړول؛
- د تمویلوونکو لخوا د اوسنیو مالي مرستو تداوم څخه ملاتړ کول؛

---

15 د روغتیا نړیوال سازمان، ۲۰۱۰، د روغتیا نړیوال سازمان راپور

- له پراختیایي همکارانو سره د روغتیا د تمویل اصلاحاتو لپاره د یوې عامې کړنلارې پیژندنې په موخه د اغیزمنې همغږۍ او اړیکې یقیني کول؛
- د ښه تمویل او د جامع اړینو روغتیایي خدمتونو (IPEHS) نوې ټولګې پایښت لپاره له پراختیایي همکارانو سره همغږي؛
- د روغتیا سکتور لپاره د تمویلوونکو د اضافي مالي مرستو د ترلاسه کولو په موخه د فرصتونو پیژندل او ورځخه ملاتړ کول؛
- د روغتیا سکتور ملي لومړیتوبونو په برخه کې د حکومت بودیجې څخه بهر د تمویلوونکو د ملاتړ د همغږۍ او همکارۍ پیاوړتیا.

متوقع پایله:

د روغتیا سکتور ملي لومړیتوبونو په برخه کې د تمویلوونکو د همکارۍ او ملاتړ د همغږۍ له لارې د روغتیا لپاره د اټکل وړ بهرنیو مالي مرستو ترلاسه کول.

۱.۳ ستراتیژیک هدف: د خصوصي سکتور سرچینو څخه نهایي ګټه اخیستل او په روغتیا کې د پانګونې زیاتول

لارې چارې:

- د روغتیا سکتور د لومړیتوب ساحو کې د خصوصي سکتور د پانګونې ملاتړ؛
- د روغتون، تشخیص، فارمسۍ او لابراتوارونو سکتورو په برخه کې د عامه او خصوصي مشارکت ملاتړ؛
- د خصوصي عوایدو اضافي او احتمالي لارو پیژندل او ورځخه ملاتړ؛

متوقع پایله:

د روغتیا سکتور په برخه کې د خصوصي سکتور د پانګونې زیاتول.

## دوهم ستراتیژیک لوری:

## له ناورینه ډک روغتیایي لګښت څخه د مالي ژغورنې چمتو کول او له جیب څخه د کورنیو شخصي لګښت (OOP) له آمله د پېښېدونکي بې وزلۍ مخنیوی کول

د مالي تمویل د یوه میکانیزم په توګه، د افغانستان روغتیا د تمویل په لویه کچه له جیب څخه د کورنۍ پر شخصي لګښت (OOP) سره مشخص کیږي. دغه له جیب څخه د کورنیو زیاتیدونکي شخصي لګښت (OOP) او په پایله کې له ناورینه ډک لګښت د بې وزلو ترمنځ روغتیایي پاملرنې ته په لاسرسي کې د بې عدالتۍ ښکارندويي کوي. پر ملي اقتصاد او کورنیو باندې له جیب څخه د کورنیو ددغه لوړ شخصي لګښت (OOP) په منفي اغیزو نشو کولای چې سترګې پټې کړو. ددې لپاره چې د خدمت وړاندې کولو په مرکزونو کې له جیب څخه د کورنیو شخصي لګښتونه (OOP) راکم شي، په ملي کچه د مخکې ورکړې میکانیزمونو یو پشنهاد باید معرفي شي، د بیلګې په توګه په ملي کچه روغتیایي بیمه چې د بې وزله وګړو ژغورنې او د روغتیا ملي موخو ته د رسیدو او د سیستم ملاتړ په خاطر طرحه شوې ده. ددغه حقیقت له آمله چې له جیب څخه ډیرۍ د کورنیو شخصي لګښت (OOP) د درملو په رانیولو باندې کیږي (نیږدې ۵۷٪)، د مخکې ورکړې د یوه پلان طرحه او پلي کول چې د طبي درملو لپاره د پیسو پر ورکړې باندې مشتمل دی، ښایي له جیب څخه د کورنیو شخصي لګښت (OOP) په راکمولو کې اړین رول ولوبوي. ددغه موخې لپاره، په داسې حال کې چې د مخکې ورکړې یو ملي میکانیزم پلي کول یوه بنسټیزې سکتوري اصلاح او ظرفیت لوړونې ته اړتیا لري، په لنډمهال کې ځینې ګامونو ته اړتیا ده چې په راتلونکي کې چمتوالی ډاډمن کړي. د روغتیا وزارت واردمخه د روغتیایي بیمې معرفي کولو لپاره د امکان پر ارزولو باندې او همدارنګه یې د منطقي او مناسبي مخکې ورکړې لپاره پر قانوني چوکاټ او د خطر مخنیوي پر ګډو میکانیزمونو باندې کار پیل کړی دی. تر دې دمه، د عامې روغتیا وزارت د روغتیا بیمې د امکان ارزونې مطالعې لومړی پړاو بشپړ کړی دی او د امکان ارزونې دوهم پړاو تر کار لاندې دی. پردې سربیره د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي بیمې د قانون مسوده چمتو کړې ده، چې اوس مهال د عدلیې وزارت تر ځیرنې لاندې ده. یو له عمده ننګونو څخه چې بې وزله وګړي په دغه روغتیایي طرحه کې تر پوښښ لاندې راوستلی شي د هغه چا په ګوته کول دي چې بې وزله وګڼل شي، پدې چې تر دې مهاله د حکومت له خوا داسې هیڅ میکانیزم نه دی جوړ شوی.

### ۲.۱ ستراتیژیک هدف: د مخکې ورکړې میکانیزمونو معرفي کول چې له جیب څخه د کورنۍ شخصي لګښت (OOP) راکم کړي

<u>لاری چاری:</u>

- د مخکې ورکړې د لارو چاروغور اود یومیکانیزم د امکان ارزونه
- د روغتیایي بیمې ورکړې لپاره د خلکو د لیوالتیا د ارزونې څیړنه
- په افغانستان کې د روغتیایي بیمې پیلولو لپاره د اړینو قانوني او اداري اسنادو برابرول
- په امتحاني ډول د مخکې ورکړې میکانیزمونو پلي کول

<u>متوقع پایله:</u>

د مخکې ورکړې میکانیزم رامنځته کول او همدارنګه په روغتیایي مرکزونو کې امتحانول.

### ۲.۲ ستراتیژیک هدف: له ناورینه ډک روغتیایي لګښت څخه د بې وزلو ژغورل

<u>لاری چاری:</u>

- له بې وزله وګړو څخه دفاع کول او په ګوته کولو کې یې له اړونده نهادونو سره کار کول

- د خيربښيګنې ميکانيزمونو له رامنځته کولو څخه دفاع کول، د بيلګې په توګه، د روغتيايي عدالت مالي مرستو او د نغدو پيسو مشروط ليږد يا انتقال (CCT) پروګرامونه چې د روغتيايي خدمتونو لومړيتوبونو تر پوښښ لاندې نيولو ته وده ورکړي؛
- په اغيزناکه توګه د بې وزلو لپاره د خدمت تر لاسه کولو په بدل کې د فيس معافيت پلي کولو داېمنول.

متوقع پايله:

له جيب څخه د کورنيو شخصي لګښت (OOP) ونډه راکمول، له ناورينه ډک د روغتيايي لګښت پيښې راکمول، او د روغتيا د خيربښيګنې ميکانيزم جوړول.

## دريم ستراتيژيک لورى:

### تدارکاتي ميکانيزمونو ته وده ورکول

په اغيزمنه او مؤثره توګه د ډېرو کمو سرچينو مديريت کول د روغتيا د تمويل ستراتيژۍ له اړينو هدفونو څخه دي. د روغتيا د تمويل اصلاحاتو په اجندا کې يو له عمده روښونو څخه د پيرودنې ستراتيژيکو ميکانيزمونو طرحه او پلي کول دي. د ستراتيژيکې پيرودنې معرفي کول بايد ځينو پوښتنو ته لکه چاته بايد وپيرودل شي، څه شى وپيرودل شي، څرنګه وپيرودل شي، په څو وپيرودل شي، باندې مشتمل دي. په افغانستان کې، روغتونونو ته تاديات د توکي په بدل کې ترسره کيږي. په غيردولتي ادارو کې چې تر صحتمندۍ پروژې لاندې، د روغتون د خدمتونو اړينه ټولګه (EPHS) او د روغتون د روغتيايي خدمتونو اساسي ټولګه (BPHS) پلي کوي، له لومړي سره ورته تاديات د اجرآتو پربنسټ ترسره کيږي. د حکومت لخوا تر اوسه پورې له خصوصي سکتور څخه خدمتونه نه پيرودل کيږي. له خصوصي چمتو کوونکو څخه د رکړو د خدمتونو پيرودل د فيس په بدل کې د خدمتونو پربنسټ ترسره کيږي او په نوموړو مرکزونو کې تاديات په مستقيم ډول د دوى له جيب څخه ترسره کيږي. د عامې روغتيا وزارت نيت لري چې له انتفاعي خصوصي سکتور سره د عامه او خصوصي مشارکت له لارې ملګرى شي، ترڅو روغتيايي پاملرنې ته لاسرسى پراخ شي او خدمتونو ته لاسرسى زيات شي. د تقاضا او عرضې له اړخه د تمويل لارې چارې لکه د پايلې پربنسټ تمويل (RBF)، د نغدو پيسو مشروط ليږد يا انتقال (CCT)، او ګرځنده روغتيا به په دوامداره توګه امتحان او پلي شي ترڅو د روغتيا عمده شاخصونو ته وده ورکړل شي او خدمتونو ته د لاسرسي پر وړاندې خنډونه له مينځه يوړل شي. د عامې روغتيا وزارت به د ورکړې د نورو اضافي ميکانيزمونو امتحانول او پلي کول چمتو کړي تر څو دا ډاډمن کړي چې د روغتيا بوديجې په اغيزناکه توګه کارول کيږي او خلکو ته په لوړ کيفيت روغتيايي خدمتونه وړاندې کيږي.

۳.۱ ستراتيژيک هدف: ستراتيژيکو تدارکاتو ته وده ورکول

لارې چارې:

- روغتونونو لپاره د عمومي بوديجې په شمول د پيرودونې ستراتيژيکو ميکانيزمونو پلي کولو لپاره د قانوني او اداري چوکاټونو عيارول او پراختيا ورکول
- د چمتو کوونکو له خوا د غيردولتي موسسو، د عامه او خصوصي سکتور په شمول د خدمتونو او وسايلو لپاره د پيرودنې ستراتيژيکو ميکانيزمونو موندل او جوړول
- د روغتونونو، روغتيايي مرکزونو، درملتونونو، لابراتوارونو لپاره د عامه او خصوصي سکتور ترمنځ مشارکتونو ايجادول
- د بوديجې پربنسټ قراردادونو لپاره د اجرآتو پربنسټ تادياتي ميکانيزمونو ته پراختيا ورکول
- د نويو ستراتيژيکو نوښتونو ارزونه او پراخول (د بيلګې په توګه د نغدو پيسو مشروط ليږد يا انتقال (CCT)) او له روغتيايي خدمتونو څخه د ګټې اخيستنې پربنسټ يې ارزونه کول.

متوقع پايله:

په یو شمیر عامه او خصوصی روغتونونو، روغتیایي مرکزونو او په عامه برخه کې تمویل شویو پروژو کې د پیردونې ستراتیژیک میکانیزمونه طرحه او پلې کول.

## څلورم ستراتیژیک لوری:

### د عامه لګښتونو اغیزمنتوب او عدالت (برابری) ته وده ورکول

په روغتیایي سیستم کې د بې کفایتی کمولو لپاره د مالي فضا پراخول شوني دي. په اغیزناکه توګه له محدودو شته سرچینو څخه ګټه اخیستنه اغیزناک پلان جوړوني او ستراتیژی ته اړتیا لري. په روغتیایي سکتور کې د اقتصادي ارزونو، د لګښت تحلیل او د عامه لګښتونو څېړني له لارې د روغتیایي اقتصاد ایجادول د ثبوت پربنسټ پریکړو کولو په ملاتړ کې مرسته کوي ترڅو تخصیصي او تخنیکي مؤثریت ته وده ورکړل شي. په روغتیایي سکتور کې په ملي کچه د روغتیایي لومړیتوبونو مؤثریت ته د ودې ورکولو لپاره د پراختیایي شریکانو او د اړونده وزارتونو ترمنځ همغږي او یووالی، تر ټولو اړین شرط دی. دا خورا اړینه ده چې نوموړی سیستم باید په عامه، غیردولتي موسسو او د روغتیا په خصوصی سکتورونو کې په دوامداره توګه کیفیت ته د ودې ورکولو ملاتړ وکړي، نو په دې توګه به بهر ته د افغانانو لپاره د سفر کولو اړتیا راکمه شي.دغه ستراتیژي پر دوامدارو څېړنو او مطالعاتو باندې هم اعتراف کوي چې د عامې روغتیا وزارت د بودیجې په لګولو کې کمی او کاستی وپلټي او همدارنګه اصلاح یې کړي او د ضایعاتو مخنیوی وکړي. د عامې روغتیا وزارت به په ولایتونو او بیلابیلو جغرافیوي سیمو کې روغتیایي لګښتونه په ګوته او د روغتیا په سکتور کې غیرعادلانه لګښتونو ته حل لارې ولټوي چې د وګړو د نفوس د اندازې او اړتیاوو پربنسټ د لګښتونو مناسب لګول ډاډمن کړي. له دې سربیره، حکومت به د بودیجې له مؤثریت څخه نظارت وکړي چې بودیجه د روغتیا د لومړیتوب شرایطو او ناروغیو لپاره د تخصیص شوو بودیجو مطابق کارول کیږي. همدارنګه ددې لپاره چې د اجرأتو په مؤثریت کې وده رامنځته شي، دغه ستراتیژي په ملي کچه روغتونونو ته د مالي خپلواکی د معرفي کولو ملاتړ هم کوي.

۴.۱ ستراتیژیک هدف: په روغتیایي سکتور کې مؤثریت ته وده ورکول

<u>لاري چاري:</u>

- په دوامداره توګه په روغتیایي سیستم کې د مؤثریت تحلیل ترسره کول چې اجرأتو ته د ودې، سپما، او د ضایعاتو مخنیوي شونتیا وړ زمیني په ګوته شي؛
- په غوره توګه له روغتیایي اړتیاوو سره د بودیجې همغږي کول چې د تخصیص مؤثریت او د روغتیایي لارو چارو لومړیتوبونو ته وده ورکړل شي؛
- په روغتیایي سکتور کې د اړونده شریکانو د ټینګې همغږی او همکاری له لارې د بودیجې د ټوټه ټوټه کیدلو راکمول؛
- د بودیجې په لګولو کې د خنډونو ارزونه او له منځه وړل؛
- اغیزمنتوب او مؤثریت ته د ودې په خاطر د پیسو ورکړې مناسبو میکانیزمونو معرفي کول؛
- د روغتیایي تکنالوژی ارزوني ترسره کول چې په روغتیایي سکتور کې د ارزاني تکنالوژی کارول ومنل شي؛
- په ملي کچه روغتونونو کې د مالي خپلواکی معرفي کول.

<u>متوقع پایله:</u>

د عامه بودیجې په تخصیص او لګولو کې مؤثریت ته وده ورکول

۴.۲ ستراتیژیک هدف: په روغتیایي لګښتونو کې عدالت (برابری) ته وده ورکول

<u>لاري چاري:</u>

- د عدالت (برابری) شنني ترسره کولو له لارې په روغتیا کې د نابرابری ثبوت چمتو کول (د بیلګې په توګه، روغتیایي پایلي او د روغتیایي خدمت چمتو کول)؛
- په بې وزله وګړو کې د روغتیایي پاملرني خدمتونو کارولو پر وړاندې د خنډونو په ګوته کول؛

- له روغتیایي پاملرنې څخه د ګټه اخیستنې او په روغتیایي پایلو کې د عدالت (برابرۍ) فعالیتونو ته وده ورکول او طرحه کول؛
- د یوه مناسب روغتیایي عدالت (برابرۍ) بودیجې طرحه او پلي کول چې اړینو روغتیایي خدمتونو ته د بې وزله وګړو لاسرسی ډاډمن کړي.

<u>متوقع پایله:</u>
په روغتیایي لګښت کې عدالت (برابرۍ) ته وده ورکول.

## پنځم ستراتیژیک لورى:

### د سرچینو څار میکانیزمونو ته وده ورکول

په روغتیایي سیستم کې د حساب ورکوونې او روڼتیا ډاډمنولو لپاره د بودیجې بهیر تعقیبول بنسټیز عمل دی. د وخت په تیریدو سره د عمومي روغتیایي پوښښ (UHC) په لور په پرمختګ کې د روغتیایي پالیسیو او پروګرامونو د اجراآتو په ارزونه کې په دوامداره توګه د روغتیایي لګښتونو سروې ګانو ترسره کول چې په روغتیایي سکتور کې څومره لګښت شوی دی، چا یې مدیریت کړی دی، او آیا د پاملرنې وړ کاروونکو ته رسیده ګي شوې ده که نه، ډیرې اړینې دي. د سرچینو څار دغه حقیقت ته په پام سره چې ډیر لګښت لري او د پلي کولو لپاره یې ډیرې وخت پر بهرنۍ تخنیکي مرستې متکي دي، ډیر ننګونکی دی. ددغه ستراتیژۍ پلي کولو په دوران کې، د عامې روغتیا وزارت نیت لري چې د خپلو څانګو او اړوند شریکانو ظرفیت لوړ کړي ترڅو په پرله پسې توګه له روغتیایي سیستم څخه د سرچینو تګ او راتګ وڅاري او ډاډمن کړي چې په اداراتو کې د سرچینو څار یا تعقیب د سیستم په داخل کې ځای پرځای شوی دی.

#### ۵.۱ ستراتیژیک هدف: په اداراتو کې د روغتیا ملي حسابونو ځای پرځای کول

<u>لارې چارې:</u>

- په پرله پسې توګه د روغتیا ملي حسابونو راپورونو جوړول؛
- د روغتیا ملي حسابونو پایلو راپور ورکولو لپاره د پالیسي لنډو څرګندونو (لنډیزونو) ته پراختیا ورکول؛
- په اغیزناکه توګه د روغتیا ملي حسابونو سپارښتنو له پلي کیدو څخه دفاع کول؛
- د روغتیا ملي حسابونو راپور لپاره د اړینو مالوماتو چمتو کولو په خاطر له اړونده شریکانو سره همغږي کول؛
- په ملي او ولایتي کچو د روغتیا ملي حسابونو د پایلو خپرول؛
- له خصوصي سکتور څخه د روغتیایي لګښتونو راټولولو په خاطر معیارونو او وسیلو ته پراختیا ورکول.

<u>متوقع پایله:</u>
په پرله پسې توګه د روغتیا ملي حسابونه جوړول یا رامنځته کول.

#### ۵.۲ ستراتیژیک هدف: په اداراتو کې د لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم ځای پرځای کول ***(EMIS)***

<u>لارې چارې:</u>

- په ملي کچه د لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) د پلي کولو زیاتول؛
- د روغتیایي لګښتونو د مدیریت اوسنی معلوماتي سیستم (EMIS) د ویب پرنسټ سیستم ته لوړول؛
- د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) د ولسوالی روغتیایي مالوماتو له سیستم (DHIS2) سره تړل؛
- د ثبوت پرنسټ پریکړې کولو لپاره په پرله پسې توګه د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) راپورونو جوړول او د اقتصادي مطالعاتو او د روغتیا ملي حسابونه (NHA) جوړول؛
- په اغیزناکه توګه د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) پلي کولو او پراخولو لپاره په کافي توګه د بشري ځواک او بشري ظرفیت شتون ډاډمنول.

متوقع پایله
د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) پلي کول او په پرله پسي توګه ورڅخه ګټه اخیستل

### ۵.۳ ستراتیژیک هدف: د عامه لګښت بررسي (**PER**) او د عامه لګښت د تعقیب سروی (***PETS***) پلي کول

لاری چاری:

- په پرله پسي توګه د عامه لګښت بررسی (PER) ترسره کول
- د عامه لګښت د تعقیب سروی ګانو (PETS) ترسره کول
- له شریکانو سره په اغیزناکه توګه د عامه لګښت بررسي (PER) او د عامه لګښت د تعقیب سروی ګانو (PETS) د سپارښتنو پلي کولو لپاره همکاري او همغږي کول؛

متوقع پایله:
د عامه لګښت بررسي (PER) او د عامه لګښت د تعقیب سروی ګاني (PETS) په پرله پسي توګه ترسره کول.

## شپږم ستراتیژیک لوری:

### د روغتیا د تمویل لپاره د حکومتوالی پیاوړي کول

په روغتیا کي حکومتوالي، سیاست، پالیسي، ملکي اداره، له مدني ټولني او خصوصي سکتور سره اړیکي، او هغه اغیزه چي بیلابیلي اداري یي پر ټولنیزو اقتصادي پایلو[16] لري په خپل ځان کي رانغاړي. د روغتیایي حکومتوالی له سیستم څخه موخه د خلکو د روغتیا ساتنه او وده ورکول دي. په روغتیا د تمویل کي ښه حکومتوالي له سالمو روښونو سره تړاو لري چي قوانین او مقررات چي پر روغتیا د تمویل اغیز لري اغیزناک جوړ شي او ددي ډاډمنول چي په روغتیا د تمویل پوري اړوند ستراتیژیک اهداف او موخي ترلاسه شي. په روغتیایي سکتور کي د اغیزناکي همغږی ډاډمنول د اغیزناک تفاهم او ایتلاف جوړولو له لاری د روغتیا د تمویل ښې حکومتوالي په ساتلو کي تر ټولو اړین دي. سربیره پردي، په ښې حکومتوالی کي د روغتیا د تمویل اصلاحاتو په طرحي او عملي کولو کي د خلکو اغیزمنه همکاري شامله ده. په روغتیایي سکتور کي د روغتیا د تمویل فرهنګ او اقتصادي ځیرني ته وده ورکول د ښې حکومتوالی یوه برخه ده.

### ۶.۱ ستراتیژیک هدف: په روغتیا د تمویل کي حکومتوالی ته وده ورکول

لاری چاري:

- د روغتیا د تمویل اړوند د عامي روغتیا وزارت او دولتي ادارو د اداري جوړښت، د همغږی میکانیزمونو او ظرفیت ارزول؛
- د روغتیا د تمویل پالیسی غوراویو او د عمومي روغتیایي پوښښ (UHC) په لوري خوځښت نقشي ته پراختیا ورکول؛
- مدني ټولني او عام ولس ته د عامي روغتیا وزارت د مالي مالوماتو خپرولو ته وده ورکول؛
- د روغتیایي سکتور دننه او بهر دوارو کي د شریکانو ترمنځ د همغږی پیاوړي کول؛
- د روغتیا د تمویل مسئلو په اړه د ګڼ سکتوریزي همغږی لپاره د عمل یوه پلان ته پراختیا ورکول او همدارنګه پلي کول؛
- په ولایتونو کي د روغتیایي مرکزونو په شمول د ګډ صلاحیت له لاري ټیټو کچو ته د واکونو له لیرد څخه دفاع کول تر څو دا یقیني شي چي خدمتونه سیمه ایزو اړتیاوو ته ځواب ویونکي دي.
- د روغتیا د تمویل په اړه د ټولنیزي همکاری لپاره د عمل یوه پلان ته پراختیا ورکول او پلي کول.

---

[16] د روغتیا نړیوال سازمان ۲۰۱۴، د عمومي روغتیایي پوښښ (UHC) لپاره د روغتیایي سیستمونو حکومتوالي

متوقع پایله:
د روغتیا د تمویل لپاره حکومتوالی ته وده ورکول.

### ۶.۲ ستراتیژیک هدف: په روغتیا د تمویل کې د څیړنې فرهنګ ته وده ورکول

لاری چاری:

- له روغتیایي اقتصاد او تمویل سره اړوند، له ملي او/یا نړیوالو پوهنیزو نهادونو سره، د روزنې او څیړنې په برخه کې د همغږیو رامنځته کول؛
- د سروې او روغتیا د تمویل او اقتصاد په برخه کې د لګښتونو مطالعاتو په شمول د څیړنې کلنیو اجنډاوو ته پراختیا ورکول.

متوقع پایله:
د ثبوت پر بنسټ د روغتیا د تمویل په اړه تګلارې زیاتول او د ثبوت پر بنسټ پریکړو کولو ته وده ورکول.

### ۶.۳ ستراتیژیک هدف: په روغتیایي اقتصاد او تمویل کې د سیمه ایزو کارکوونکو ظرفیت ته وده ورکول

لاری چاری:

- د طب سترو پوهنتونونو په نصاب کې د روغتیایي اقتصاد شاملول؛
- د روغتیایي سیستم فعالانو ظرفیت لوړول چې د روغتیا لپاره د پیسو ارزښت دادمنولو لپاره د تمویل مناسبه کارونه او مدیریت دادمن کړي؛
- د عامې روغتیا په وزارت کې وړتیاوو ته پراختیا ورکول چې په اغیزناکه توګه د روغتیا د تمویل له اړوند وزارتونو سره تفاهم او ګټوری اړیکې مدیریت کړي؛

متوقع پایله:
په روغتیایي اقتصاد او تمویل کې د عامې روغتیا وزارت ظرفیت لوړول.

## د ۲۰۲۳ میلادي کال لپاره متوقع پایلې او لاسته راوړنې

په بریالیتوب سره د روغتیا د تمویل ستراتیژۍ د پلي کولو دادمنتیا په خاطر ستري پايلې او لاسته راوړنې په ګوته شوي دي. دغه پایلې او لاسته راوړنې په دریو پړاوونو کې تنظیم شوي دي. لومړي دوه پړاوونه هر یو یې د دوو کلونو په موده کې دي، په داسې حال کې چې وروستی پړاو د یوه کال په موده کې پلې کیږي.

### لومړی پړاو (له ۲۰۱۹ میلادي کال څخه تر ۲۰۲۰ پورې)

- ✓ د دوهم پړاو د روغتیایي بیمې د امکان مطالعې ترسره کول چې د خطر مخنیوي غوراوي په ګوته کوي او د پلې کولو نقشې ته یې پراختیا ورکول؛
- ✓ د کورنیو تولیداتو له عایدو څخه ملاتړ کول؛
- ✓ د پایلو پربنسټ د نغدو پیسو مشروط لیږد یا انتقال (CCT) لارې چارې زیاتول؛
- ✓ د خطر مخنیوي میکانیزمونو لکه ټولنیزه روغتیایي بیمه امتحانول؛
- ✓ د سیمې په کچه په هغو روغتونونو کې چې ثالثي خدمتونه وړاندې کوي د روغتیایي عدالت (برابرۍ) له امتحاني بودیجو سره د خدمت ترلاسه کولو په بدل کې فیس معرفي کول؛
- ✓ په څینو ادارو کې د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) ځای پرځای کول؛
- ✓ د خدمتونو په پیرودلو (تدارکاتو) کې ستراتیژیکه پیرودنه پراخول.
- ✓ د سیمې په کچه د ثالثي خدمتونو لګښت ترسره کول.

### دوهم پړاو (له ۲۰۲۱ میلادي کال څخه تر ۲۰۲۲ پورې)

- ✓ د روغتیا ملي حساب (NHA) پنځمه دوره چې پر روغتیا جوړیدنې، د ماشوم روغتیا، او د نورو ناروغیو پر فرعي حسابونو باندې مشتمله دی ترسره کول؛
- ✓ د کورنیو عوایدو جوړونې لپاره د ملاتړ ترسره کول؛
- ✓ د دوهم پړاو روغتیایي بیمې د شونتیا پلې شوې مطالعې د پایلو پربنسټ نقشې ته پراختیا ورکول؛
- ✓ د خطر مخنیوي میکانیزمونه او د تمویل عدالت ارزونې ترسره کول او زیاتول؛
- ✓ د سیمې په کچه په ثالثي روغتیایي پاملرنې کې د عامه او خصوصي مشارکتونو پلې کول؛
- ✓ په اداراتو کې د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) په بشپړه توګه ځای پرځای کول.

### دریم پړاو (2023 میلادي کال)

- ✓ د عامه او خصوصي مشارکتونو روغتونونه جوړول؛
- ✓ له باکیفیته روغتیایي خدمتونو څخه ګټې اخیستنې ته په ستره کچه وده ورکول؛
- ✓ روغتیایي سکتور ته د تمباکو مالیې له بودیجې او نورو نوښتونو څخه عاید چې د عوایدو جوړونې ستراتیژیک کاري چوکاټ (RGSF) له خوا پشنهاد شوی، زیاتول.

## د اجرأتو اندازه کول: له ۲۰۱۹ تر ۲۰۲۳ میلادي کال پورې د روغتیا د تمویل ستراتیژۍ له پلي کولو څخه نظارت کول

ددغه ستراتیژیک پلان لپاره د نظارت او ارزونې میکانیزمونه باید د نظارت او ارزونې له اوسنیو فعالیتونو او سیستمونو سره یوځای شي. ددغه ستراتیژۍ د پلي کیدو اندازه کولو لپاره د روغتیایي مدیریت معلوماتي سیستم (HMIS)، د روغتیایي پایلو لپاره د څار مالومات، د کورنیو سروې مالومات، د روغتیا ملي حسابونه (NHA)، د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS)، او همدارنګه د بودیجې او د قیمت ګذارۍ مالوماتو په شمول د مالوماتو ګڼې سرچینې شتون لري. مالومات باید له یوه بل سره پرتله شي او همدارنګه د اړتیا پرمهال له پروګرامونو څخه د نظارت، د مطالعاتو د تولید، راپورونو او ناستو د راپورونو پربنسټ تائید شي.

ددغه ستراتیژۍ له اجرأتو څخه نظارت به په عامې روغتیا وزارت کې عمدتاً د پالیسۍ او پلان عمومي ریاست او د مرستو د همغږۍ مدیریت مسؤلیت وي. که څه هم، د اړتیا وړ مالومات باید د ټولو اړونده شریکانو له خوا چمتو شي. د اجرأتو مدیریت لاندې چوکاټ یو لړ شاخصونه پشنهادوي کوم به چې په ټولیزه توګه د ستراتیژۍ موخو او د شپږو لاربنودونو د هر یو هدف تر لاسه کولو په لور د پرمختګ ارزونه کوي. د اجرأتو مدیریت چوکاټ په لومړي سر کې په مشورتي ورکشاپ کې د ګډونوالو له خوا طرحه شوی ؤ تر څو یقیني کړي نوموړي پشنهاد شوي شاخصونه د سمارټ (SMART) چوکاټ تعقیبوي، او بیا په لوړه کچه، او په ټول کې ورباندې سلا وشي.

**۱. چوکاټ.** د اجرأتو مدیریت چوکاټ

| ستراتیژیک لوری | شاخص | بنسټیزه کرښه | د ۲۰۲۳ کال په پای کې موخه | د تائید سرچینې |
|---|---|---|---|---|
| ستراتیژیک هدف: د کافي بودیجې جلبولو، مؤثریت او تمویل عدالت ته د ودې ورکولو له لارې د عمومي روغتیایي پوښښ (UHC) په لوري چټک حرکت | | | | |
| لومړی ستراتیژیک لوری: د روغتیا لپاره د کورني او بهرني تمویل تنظیمول | | | | |
| ۱.۱ ستراتیژیک هدف: د روغتیا لپاره د کورني تمویل زیاتول | د دولت د ټول لګښت د ونډې په توګه د روغتیا لپاره کورنی تمویل | ۲[17]% | ۶% | د مالیې وزارت د بودیجې سند |
| ۱.۲ ستراتیژیک هدف: اتکلوني (وړاندوینې) ته وده ورکول او د بهرني تمویل زیاتول | د روغتیایي لګښت ټولې سلنې په توګه د روغتیایي سکتور لپاره بهرنی مرستې یا تمویل | ۲۰% | ۲۰% | د روغتیایي سرچینو نقشې جوړول |
| ۱.۳ستراتیژیک هدف: د خصوصي سکتور سرچینو واکې سمبالول او په روغتیا کې پانګه اچونې ته وده ورکول | د روغتیا په خصوصي سکتور کې د پانګه اچونې سلنې زیاتوالی | بنسټیزه کرښه له ارزونې څخه وروسته ټاکل کیږي | بنسټیزه کرښه + ۵٪ | د خصوصي سکتور د روغتیایي سرچینو نقشې جوړول |
| دوهم ستراتیژیک لوری: له ناورینه ډک روغتیایي لګښت څخه د مالي ژغورنې چمتو کول او له جیب څخه د کورنیو شخصي لګښت (OOP) له آمله د پېښېدونکې بې وزلۍ مخنیوی کول | | | | |
| ۲.۱ ستراتیژیک هدف: د مخکې ورکړې میکانیزمونو معرفي کول چې له جیب څخه د کورنیو شخصي لګښت راکم کړي | د یو ډول مخکې ورکړې میکانیزم پلي کول لکه روغتیایي بیمه | نشته | د مخکې ورکړې میکانیزمونه پیلیدل او د نفوس د ځینې برخو پوښل | د پالیسۍ اسناد |
| ۲.۲ستراتیژیک هدف: له ناورینه ډک روغتیایي لګښت څخه د بې وزله وګړو ژغورنه | له ناورینه ډک روغتیایي لګښت ۱۰٪ کمولو سره د کړیدونکي نفوس سلنه | ۴۴.۱۸% | ۳۵% | د سروې راپور |
| دریم ستراتیژیک لوری: د پیرودنې میکانیزمونو ته وده ورکول | | | | |

[17] د عامې روغتیا وزارت، د افغانستان د روغتیا ملي حسابونه، کابل

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳.۱ ستراتیژیک هدف: ستراتیژیکي پیرودنې ته وده ورکول | د فعالیت پر بنسټ تمویل لاندې کارکوونکو د روغتیایي مرکزونو شمیر | نشته | ۲,۷۹۵ | د اجرآتو مدیریت دفتر (د اجراتو مدیریت دفتر (PMO) راپور |
| | د هغو روغتونونو شمیر چې نړیواله بودیجه پلي کوي | نشته | ۱۷ ملي روغتونونه | د پیرودنې راپور |
| **څلورم ستراتیژیک لوری: په عامه لګښتونو کې د عدالت (برابری) مؤثریت ته وده ورکول** | | | | |
| ۴.۱ ستراتیژیک هدف: په روغتیایي سکتور کې مؤثریت ته وده ورکول | د ترسره شوي مؤثریت تحلیل او د ارزوني مطالعاتو شمیر | ۱ | ۶ | د مطالعې (څیړنې) راپور |
| | د هغو روغتونونو شمیر چې روغتیایي خپلواکي لري | ۰ | ۱۷ | د روغتون اصلاحاتو راپور |
| ۴.۲ ستراتیژیک هدف: په روغتیایي لګښتونو کې عدالت یا برابری ته وده ورکول | په روغتیایي لګښت او له خدمتونو څخه په ګټه اخیستنه کې د عدالت (برابری) وضعیت په اړه د ترسره شویو شننو شمیر | ۱ | ۴ | د مطالعې (څیړنې) راپور |
| **پنځم ستراتیژیک لوری: د سرچینو تعقیب میکانیزمونو ته وده ورکول** | | | | |
| ۵.۱ ستراتیژیک هدف: په اداراتو کې د روغتیا ملي حسابونو (NHA) ځای پرځای کول | د جوړو شویو روغتیایي حسابونو شمیر | ۴ | ۶ | د روغتیا ملي حسابونو (NHA) کلنۍ راپور |
| ۵.۲ ستراتیژیک هدف: په اداراتو کې د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) ځای پرځای کول | د ربعوارو وقفو پربنسټ د مالوماتو مدیریت سیستم (EMIS) ترلاسه شویو راپورونو شمیر | ۱۰ | ۳۰[18] | د روغتیایي لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) ربعوار راپور |
| ۵.۳ ستراتیژیک هدف: د عامه لګښت بررسي او د عامه لګښت د تعقیب سروی (PETS) پلي کول | د عامه لګښت د تعقیب ترسره شویو سروې ګانو (PETS) شمیر | ۲ | ۴ | د عامه لګښت د تعقیب سروی (PETS) راپور |
| **شپږم ستراتیژیک لوری: د روغتیا د تمویل لپاره د حکومتوالی پیاوړي کول** | | | | |
| ۶.۱ ستراتیژیک هدف: د روغتیا په تمویل کې حکومتوالی ته وده ورکول | د روغتیایي خدمتونو تمویل حکومتوالي لپاره د پالیسي اسنادو شمیر | نشته | په هکله به یې پریکړه وشي | د پالیسۍ اسناد |
| | د ګڼ سکتوري او د ټولنیزې همکارۍ ترسره شویو ناستو شمیر | نشته | په هکله به یې پریکړه وشي | د پالیسۍ اسناد |
| ۶.۲ ستراتیژیک هدف: په روغتیا د تمویل کې د څیړنې فرهنګ ته وده ورکول | په روغتیا د تمویل او اقتصاد کې د څیړنې ترسره شویو مطالعاتو شمیر | ۴۱ | په هکله به یې پریکړه وشي/باید په ګوته شي | د څیړنې راپور |
| ۶.۳ ستراتیژیک هدف: په روغتیایي اقتصاد او تمویل کې د ظرفیت پیاوړي کول | د ظرفیت لوړوني ولایتي ترسره شویو ناستو شمیر | نشته | ۲۵ | د ظرفیت لوړونې پروګرام راپور |

18 زمونږ په اند د معلوماتو مدیریت سیستم (EMIS) ته اوسنی ملاتړ پایداره دی